# عبدالولي خان

## د پښتون سياست يو روښانه باب

ميا افتخار حسېن

د عوامي نېشنل پارټۍ د رهبر تحريک عبدالولي خان بابا شمېر د پاکستان په سينئر ترينو سياستدانانو کښې کېږي. هغهٔ خپله ټوله زندګي د باچا خان په رنګ د عدم تشدد او پښتنو د حقونو دپاره تېره کړه. هغهٔ د ژوند ډېر کلونه د جېل د تورو تمبو شاته تېر کړي دي خو په خپلو اصولو ئې هېڅکله هم سمجوته نهٔ ده کړې، هم دا وجه ده چې د جمهوريت دپاره د ولي خان خدمات او قربانۍ به ټول عمر ياد ساتلې شي.

ولي خان په ۱۱ جنورۍ ۱۹۱۷ء د چارسدې په اتمانزو کلي کښې پېدا شوے ؤ، ابتدائي تعليم ئې د باچا خان په ازاد اسلاميه سکول کښې کړے ؤ، (ولي خان د دغه سکول ورومبے طالب علم ؤ کله چې دے په ۱۹۲۲ کښې باچا خان په دې سکول کښې داخل کړو) بيا ولي خان هندوستان ډېره دون پبلک سکول ته لاړو، ۱۹۳۹ء کښې ئې سينئير کېمبرج وکړو. دغه موده کښې ورته يوه سترګه کښې تکليف شروع شو او ډاکټرانو دے د نور تعليم نه منع کړو. ولي خان د سياست اغاز د خدائي خدمتګار تحريک نه وکړو او په ورومبي ځل ۱۹۴۳ء کښې د ايف سي آر د قانون لاندې جېل ته ولېږلے شو. د دې نه پس ۱۵ جون ۱۹۴۸ء کښې ګرفتار کړے شو او د هري پور په جېل کښې وساتلے شو. په دغه دوران کښې د بابړې تاريخي واقعه وشوه چې د باچا خان، ولي خان او نورو مشرانو د ګرفتارۍ خلاف خدائي خدمتګارو پرامنه احتجاج کولو د پاکستان حکومت په تش لاسو بې ګناه خلقو ګولۍ وچلولې او په سوونو ئې ووژل. مۍ ۱۹۴۹ء کښې ولي خان د هري پور نه د بلوچستان مچ جېل ته منتقل کړے شو. ۱۹۵۳ء کښې فېډرل کورټ دوي راپرېښودل. دغه شان ولي خان مسلسل پنځهٔ کاله پنځهٔ مياشتې او پنځهٔ ورځې جېل تېر کړو. د رهايۍ نه پس د باچا خان په اجازت د حکومت سره په مياشتو مياشتو مذاکرات وشول او حکومت د دهٔ مدبرانه، دانشمندانه، حقيقت پسندانه، ښکاره او اصولي موقف له وجې په دې قائل شو چې خدائي خدمتګارانو ته د عامې معافۍ



اعلان وکړي او ټول رها کړي او ضبط شوي جائدادونه ورته هم واپس کړي او هم داسې وکړې شول.

۱۹۵٤ء کښې چې کله ون یونټ جوړ کړے شو، د دې ماتولو دپاره باچا خان یو تحریک شروع کړو چې ولي خان ورسره څنګ په څنګ ؤ، د دې کوششونو په نتیجه کښې په ملکي کچ یو تنظیم جوړ کړے شو چې نوم ئې نېشنل عوامي پارټي (نېپ) کېښودے شو. ۱۹۵٤ء کښې ولي خان د نېپ مرکزي صدر جوړ شو، په ۱۳ نومبر ۱۹۶۸ء کښې ولي خان د ایوب خان خلاف د بیانونو ورکولو په جرم کښې یو وار بیا ګرفتار کړے شو او مارچ ۱۹۶۹ء کښې رها شو، په ۲۶ نومبر ۱۹۷۱ء یحیٰي خان په نېپ پابندي ولګوله، وروستو دغه پابندي بوټو وچته کړه. په ۸ فروري ۱۹۷۵ء کښې د پښتونخوا ګورنر او د پیپلز پارټۍ رهنما حیات خان شېرپاؤ په یوه بم چاؤدنه کښې په حق ورسېدو، د پیپلز پارټۍ حکومت د هغهٔ د قتل الزام په ولي خان ولګولو او هغه هم په دغه شپه د لاهور نه پېښور ته راتلو چې ګجرات سره ګرفتار کړے شو. دغه شان د نېپ ټول مشران د پښتونخوا، بلوچستان، سندھ او پنجاب نه ګرفتار کړے شو. بوټو د امریکې په دوره ؤ، فوراً راواپس شو او په ۹ فروری ۱۹۷۵ء کښې هغهٔ په نېپ پابندي ولګوله او په ولي خان او د هغهٔ په ملګرو ئې د حېدراباد سازش کېس مقدمه جوړه کړه.

په ولي خان ځلور واره قاتلانه حملې وشوې، دوه واره په ملاکنډ اېجنسۍ کښې او دوه حملې په پنجاب کښې خو الله پاک دے په ځلورو واړو حملو کښې بچ کړو.



جنورۍ ۱۹۷۷ء کښې بوټو د عامو انتخاباتو اعلان وکړو، مرکزي او صوبائي اسمبلۍ ماتې کړې شوې او د انتخاباتو تیارے شروع شو. د اپوزېشن ټولې پارټۍ یو ځائے شوې او د یو ډي ایف (UDF) په ځائے ئې (PNA) پاکستان نېشنل الائنس جوړ کړو. مارچ ۱۹۷۷ء کښې د قومي اسمبلۍ الېکشن وشو چې د سرکاري اعلان مطابق پکښې پیپلز پارټي په اکثریت کښې راغله. پي این اې د نتائجو منلو نه انکار وکړو او د لسم مارچ ۱۹۷۷ء د صوبائي انتخاباتو نه ئې بائیکاټ وکړو او د اپوزېشن چې کوم د قومي اسمبلۍ غړي منتخب شوي وو، هغوي هم احتجاجاً استعفٰي ګانې ورکړې او تحریک شروع شو. ضیاءالحق په جولائي ۱۹۷۷ء کښې مارشل لاء ولګوله او بوټو ئې ګرفتار کړو، درې هفتې پس ضیاءالحق ولي خان او د هغوي ملګرو سره ملاقات دپاره حېدراباد جېل ته لاړو، ورسره ئې مذاکرات وکړل او د حېدراباد سازش کېس ټول قېدیان ئې راپرېښودل.

د ضیاءالحق د مارشل لاء خلاف د ایم ار ډي په تحریک کښې ولي خان ته یو اهم حېثیت حاصل ؤ، د دې تحریک په دوران کښې ولي خان څو څو واره ګرفتار هم شو.

د ۱۹۵۸ء په غېر جماعتي انتخاباتو کښې اې این ډي پي برخه اخستې وه، ولي خان په دغه انتخاباتو کښې د برخې اخستو په حق کښې نهٔ ؤ، په هغه

ورځو کښې سردار شېرباز مزاري د اېن ډي پي مرکزي صدر ؤ. ۱۹۸۶ء کښې اېن ډي پي په عوامي نېشنل پارټۍ کښې بدله کړې شوه، د دې نه پس د ملک ډېرو لويو قوم پرستو مشرانو د ولي خان په قيادت کښې د اې اېن پي نه نوے سفر شروع کړو.



۱۹۸۸ء کښې ولي خان د اېن اې ۵ چارسدې نه ايم اېن اې منتخب شو او په قومي اسمبلۍ کښې د اپوزېشن د اهم رهنما په توګه ئې خپله سياسي وظيفه ترسره کړه. ۱۹۹۳ء کښې ولي خان هم د هغه حلقې نه په الېکشن کښې د ناکامۍ سره مخ کړې شو نو ولي خان په فراخ دلۍ خپل شکست تسليم کړو، د پارټۍ د صدارت نه ئې استعفیٰ ورکړه، اجمل خټک د هغوي په ځائے د پارټۍ صدر منتخب کړے شو او ولي خان د عملي سياست نه يو طرفته شو. د ولي خان دا کردار به د پاکستان په سياسي تاريخ کښې د همېشه دپاره سرو زرو په اوبو ليکلے کېږي.

د ولي خان اصولي سياست د پاکستان د سياسي تاريخ يو روښانه باب دے. ولي خان يوه ترقي پسندانه قوم پرست نظريه لرله. د خپلې خاورې او اولس سره ئې بې کچه مينه لرله. د خپل اولس او خاورې په وسائلو ئې د هغوي حق غوښتلو. هغه د پاکستان د ټولو قامونو د انساني او قامي حقونو حامي ؤ خو د يو قوم بالادستي او تسلط ئې نۀ منلو او هم دغه وجه وه چې مخصوص مفاد پرست سياسي حلقې او خفيه قوتونه هر وخت په دې کوشش کښې وو چې هغه په څۀ نه څۀ طريقه بدنام کړي او د هغۀ سياسي قد راکم کړي. هغۀ په هر حال د جمهوريت او جمهوري قوتونو مرسته کړې ده. د ايوب خان د امريت خلاف د خپل سياسي مخالفت لرلو باوجود ئې د فاطمه جناح ملګرتيا کول ښکاره مثال دے. دا اوس چې زمونږ په وطن کښې کوم حالات روان دي، دا مونږ ته ولي خان ډېر پخوا وئيلي وو خو هغه وخت د پاکستان حکمرانانو دغه خبرې نظر انداز کړې او دا دې نن هغې اور ټول وطن په خپله ولقه کښې اخستے دے چې پرون به ولي خان د دې پېش ګوئي کوله. د کالاباغ ډېم خلاف هم د ولي خان کردار د هېرولو نۀ دے، هغۀ به وئيل چې تر څو يو پښتون هم ژوندے وي کالاباغ ډېم به نۀ جوړېږي.

غرض دا چې ولي خان د شجاعت، اصول پرستۍ، جمهوريت پسندۍ، سياسي بېدارۍ او خپل عظيم بابا باچا خان د فلسفۀ امن روښانه استعاره وه چې پښتانۀ به ئې چرې هم هېر نۀ کړي.

زمونږ د تحريک دا رهبر د اوږدې ناروغۍ نه پس د ۸۹ کالو په عمر کښې د زيارت په ورځ ۲۶ جنورۍ ۲۰۰۶ء د دې دنيا نه همېشه دپاره لاړو. د جمعې په ورځ درې بجې ئې کننګم پارک کښې جنازه وشوه او د خپل وصيت مطابق ولي باغ چارسده کښې خاورو ته وسپارلے شو.

جسم هے خاک مګر زخم هنر زنده هے
کيا هوا تو جو نهين تېرا سفر زنده هے